بسم الله الرحمن الرحیم

**<u>دوطن ګوند دغړو دانسجام د لنډ مهاله تشکیلاتو د مرکزی شورا دینځمی نوبتی ناستی مصوبه</u>**

**د ۱۳۹۰ کال دوری دمیاشتی**

**دوطن ګوند د غړو دانسجام د لنډ مهاله تشکیلاتو مرکزی شورا د روان کال دوری دمیاشتی په شپږویشتمی نیتی غونډه وکړه. ددی غونډی په ترڅ کی دهیواد په روانو مهمو مسلو او ګوندی ژوند په بیلابیلو اړخونو خبری وکړی**

**ددی خبر و په ترڅ کی دغونډی برخه والو باور څرګند کړ چه د هیواد روان سیاسی ـ پوځی کړکیچ د ځینو ګاونډیو هیوادونو، په ځانګړی توګه ، دپاکستان د استخباراتی کړیو د لاس وهنی په پایله کی د هر کال په تیریدو سره د پیچلتیا پرلوری درومی ، ددی په څنګ کی دیادونی وړ ده چی د اوسنی ناورین د اساسی لاملونو څخه یو هم د بن په کنفرانس او وروسی لویو جرګو کښی د ولس دریښتنی ارادی د نه تمثیل تپوسه ده ، چه دافغا نستان د سیاسی ــ پوځی ډګر یو لر مهم اړخونه په لوی لاس له پامه وغورځول شول . خو دا د دقضیی .یواځی یو اړخ جوړوی**

دمسلی بل مهم اړخ بهرنیو لاس وهنه ده چی په ځانګړی توګه ، دپاکستان له لوری په افغانستان کښی د رنګارنګو دولتونو او نظامونه پر وړاندی د مخا لف وسله وال اپوزیسیون ، روزنه او پالنه ، د هغوتجهیزول ، تموینول او زموږ هیواد ته دهغوی را استونه ، په افغانستان کښی د ورور وژنی اساسی مرکزی لامل جوړوی

**نوموړی لامل ته په کتو سره په زغرده ویلای شو چه که د افغانستان سولی خوښونکو ، ملی او هیواد پالو ځواکونو او شخصیتونو له لوری د بهرنی لامل پر وړاندی اړین افداما ت تر لاس لاندی ونه نیول شی ، د افغانستان دروانی غمیزی قطعی حل نا شونی بریښی . دا زموږ د دیرش کلن سیاسی ـ پوځی تجربی ټولنیز استنتاج دی ، چی د هغه پر صحت پوره با ور لرو. داده ګورو چی اوس په هیواد کښی قریب د نیمی نړی د هیوادونو د مستقیم او غیر مستقیم د شتون سره سره زموږ ټولنه پر یوه داسی بحران کښی راښکیله ده چه په هغه کښی د ټوپک غږ د هر غږ ځینی اوچت تر غوږه کیږی . یعنی موږ لا تر اوسه دبحران دپای ته رسید نی تر لمړی پړاو چی هغه د جګړی غوځیدنه ده ، زیا ته فاصله لرو . موږ د همدی بحران اود هغو بدلونونو چه د قوا و د بدلون په وجه رامینځ ته شوی د ماهیت دتشخیص له ډیر جدی او اهمیت لرونکی سوال سره مخمخ یو \ا دهغه د ځواب موندنی په مخه تر هرڅه د مخه د ملی او هیواد پالو اغیزمنو ځواکونو آوشخصیتونو د هر اړ خیز ی مشاوری او د هغه د ګډو هلو ځلو د ګډو وجوهاتو په ګوته کولو اړتیا را بر سیره کیږی**

**خو داهم دیادونی وړ ده چه سوله او سولی ته رسیدنه دا دواړه یو دبل څخه توپیر لرونکی څیزونه دی . سوله ـ د وخت له پلوه په ټاکلی پړاویز انتروال کښی زموږ دپاره استرتیژیک هدف دی ، خو هغی ته رسید نه ،هری بلی ستراتیژی په څیر د ټا کلو ځند نه منونکو دنډودتحقق لپاره میکانیزم ته ضرورت لری احتوا کونکی وی . د همدی میکا نیزم پر سر جوړ جاړی ته رسید نه په اوسنی شرایطو کښی ، د ملی او هیواد پالو ځواکونو او عناصرو رسالت او مسوولیت څو چنده کوی چی دا دی په همدی زمانی مقطع کښی د یوی جدی او حیاتی اړتیا په ټوګه زموږ په وړاندی تبارز کړی دی**

**د وطن ګوند د غړو د انسجام د لنډ مهله تشکیلاتو غړی ، په خپلی ټولی لیوالتیا سره چه په هیواد کښی یی د ملی پخلاینی اصولو پر مبنی له هیوادنی سراسری تیکاو سره لری او د ویجاړ افغانستان د کشالی د مسالمت آمیز حل د لیاری غوښتونکی یو ، د خپل لارښود شهید داکتر نجیب الله د تیرو ارشاداتو په رنا کښی د نوموړی بی څاری ، رغندی او بی بدیلی هومانیستی تګلیاری کښی د ټولو نورو پر هیواد مینو ، ملی ، ترقی غوښتونکو او سولی غوښتونکو ځواکونو ، عناصرو آو شخصیتونو په څنګ کی د ملی پخلاینی او د هیواد د بیا رغونی په کار کښی ، ریښتنی ونډی اخیستو ته تیار یو**

**ددی بهیر په ترڅ کښی د وطن ګوند د عالی ټولنی ( کنګری ) جوړید نه دګوندی غړو راټولیدنی او تمرکز یوه غوره وسیله او پر ځای اصولی ګټور ډریځ دی چه دمشخصو اهدافو سره سره دعامو موخو د پلی کیدو په**

لیار کښی د اغیزمنو څواکونو اغیزمن میکانیزم رامینځ ته کوی او دملی ټولنیزی سولی د ټینګښت او دهیواد د بیا رغونی کار کی مرسته کوی
دمرکزی شورا غونډه په خاصه توګه دګوندی ژوند دمسایلو دڅیرنی ورسته تصویبوی
:
۱ ـ د وطن ګوند د غړو دانسجام د لنډ مهاله تشکیلاتو د ویاند له لوری د اجراییه کمیتی په استا زیتوب لوستل شوی رپوټ تا یید دی . نوموړی رپوت دی په بشپړ ډول د همدی مصوبی سره جوخت په لیکلی بڼه چاپ او هغه دی د انسجامی کړیو په واک کښی ورکړ شی

۲ ـ د وطن ګوند د عالی ټولنی د تدارک او جوړونی د عالی کمیسیونپریکړی تأیید دی . دموقتو تشکیلاتو ټولو انسجامی کړیوته دنده ورکول کیږی څو د هغی د بلا انحراف پلی کونی په لیار کښی هر اړخیز هلی ځلی تر سره کړی

۳ـ د وطن ګوند د عالی ټولنی د جوړید نی په موخه اړینه ده څو دا لاندنی ټکی په پام کښی ونیول شی

الف ـ دوطن ګوند دعالی ټولنی رابلنه دی دعالی کمیسیون له لوری د تصویب کړ شوی طرزالعمل سره سم د روان کال د تلی د میاشتی په لمړی نیمایی کښی په نښه شی

ب ـ پراخ تبلیغاتی پروګرام دی په دی هکله طرح او پلی کړی شی

ج ـ د زونونو و سهمیی د ټاکلی کاردی د راتلونکو د و میاشتو په اوږدو کښی سر ته ورسول شی

د ـ دوطن ګوند د غړو د انسجام د لنډ مهله تشکیلاتو د داخلی ژوند د طرزالعمل د دوهم فصل د پنځمی مـا دی د لـمړی فقری د دریم بند او نوموړی ما دی د دریم فقری د الف بند حذف او دیا دی ما دی پر څلورمی فقری کی دی اجراییه کمیتی د پریکړی له مخی د ویاند دلمړی مرستیال ، مرستیال او د غـړو مفاهیم شامل کړل شی

۴ ـ په تشکیلاتی برخه کښی د اجراییه کمیتی وړاندیز تایید دی

۵ ـ د وطن ګوند د غړو دانسجام د لنډ مهاله تشکیلاتو دمرکزی تشکیلاتو د مرکزی شورا د پنځم نوبتی اجلاس ګډون کونکی دوطن ګوند دنوی مرامنامی او اساسنامی طرحی چی د عالی ټولنی د عالی کمیسیون له لوری نهایی شوی دی ، تاییدوی نوموړی طرحی دی د تصویب په موخه د وطن ګوند عالی ټولنی ته وړاندی شی

۶ ـ د همدی مصوبی د پریکړو د پلی کیدو دنده د لند مهاله تشکیلاتو اجراییه کمیتی ته ورپه غاړه کیږی